سمسور ودان ۲۰۲۲/۰۹/۰۵

لیکنښې ولې مهمې دي؟

هغه راغلی و
څه فکر کوئ پورتنۍ جمله یوه پوره جمله ده او که نه؟ کوم حالت څرګندوي، پوښتنه ده، مثبته جمله ده، که منفي، کومه زمانه بیانوي، څه معنا به ولري او... ښايي ځوابونه مو ډول، ډول او د ځینو حتی نه او نامعلوم وي. راځئ چې په علت یې وغږیږو؛ خو له هغې وړاندې باید وویل شي چې دا یوه پوره جمله نه ده او لامل یې په پای کې د لیکنښې نه درلودل، چې مونږ ترې د جملې بشپړوالی او لا پراخوالی معلوم کړو.
دغه جمله په پیل، پای او یا منځ کې هیڅ کومه نښه نلري، چې مونږ یې تمامیت باندې پوه شو او کوم مطلب ترې واخلو. په پورتنۍ جمله کې چې څه شی رامعلوم دی، یوازې دا چې جمله د تېرې زمانې ده؛ خو په دې حالت کې هم نه پوهېږو، چې «هغه» یعنې مطلوب شخص څومره وړاندې راغلی؛ ځکه دا جمله د کاغذ پر مخ لیکل شوې، مونږ د ویونکي (متکلم) تندی او خوله نه وینو، چې له وینا یې معلومه کړو، چې «هغه» څومره وړاندې (ډېر مخکې، لږ مخکې او که همدا لږه شېبه وړاندې) دلته راغلی و.
هره جمله په دریو ځایونو کې لیکنښو ته اړتیا لري. په سر، منځ او پای کې.

۱ ـ لیکنښې د جملې په سر کې:
که چیرې مونږ پورتنۍ جمله «هغه راغلی و» په دې شکل ولیکو:
ـ هغه راغلی و.
نو پوهېږو چې دا له یوې محاورې را اخیستل شوې جمله ده او ښايي د کومې پوښتنې ځواب وي.
که جمله د نورو جملو برعکس په لومړي سر کې د دریو سپېسونو (دریو ټکو په اندازه فاصله) ولري. نو پوهېږو چې دا جمله د پرګراف پیلیزه جمله ده.
همداراز که له جملې وړاندې شارحه «:» او له لږې فاصلې وروسته جمله لیکل شوې وي؛ مونږ پوهېږو چې دا د یو بل چا خبره ده؛ مثلا: په یو متن کې وینو، چې لیکل شوي:
مینه: درواغ او شک ټینکه اړیکه او ژور باور له منځه وړي.
سهیل: بالکل؛ ځکه خو زه له درواغو او شک ډډه کوم.
که چیرې له جملې وړاندې او وروسته دوه واړه قوسونه وي، پوهېږو چې دا د یو بل چا وینا ده (اقتباس شوی)؛ چې زیاتې نښې یې د حدیثونو او آیتونو په ژباړو کې لیدلی شو.
همداراز که جمله (هغه راغلی و.) په قوسونو کې لیدلې ووینو، نو یو مطلب دا هم ترې اخیستلی شو، چې ویونکی په دې خبرې ټینګار کوي، ښايي دا یو مهم کس وي، چې راتګ یې د دوی له پاره ډېر ضرور وي؛ نو ځکه خو یې دومره ټینګار پرې کړی دی.
له دې پرته ځینې وخت قوسونه د دې له پاره هم لیکل کیږي، چې له یوې جملې سره څنګ ته وضاحتي لنډه جمله ولیکل شي، چې د متن اصل هدف نه وي، بلکې کومه دوهمه معنا پکې ذکر شوې وي او یا مونږ ته نور معلومات راکوي.

۲ ـ لیکنښې د جملې په منځ کې:
د جملو په منځ کې هم ډېرې لیکنښې کارول کیږي؛ خو مونږ یې یوازې په پورتنۍ جمله کې څېړو. که چیرې لیکل شوي وي، چې (هغه «۱» راغلی و.) نو تاسې اړ یاست چې د جملې په منځ کې راغلی یو عدد، چې دوو وړو قوسونو کې بند دی، د جملې په وروستیو کې لیکل شویو شرحو یا اخځلیکونو کې وګورئ؛ ځکه چې شرحه مونږ ته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا «هغه» راښودلی شي او یا مو په دې خبروي، چې دا جمله ښايي په کوم بل کتاب کې هم راغلی وي، چې د «هغه» په اړه پکې لا زيات معلومات وي .
له دې پرته که چيرې مونږ په جمله کې له هغه وروسته سلش «/» ورکړو او جمله داسې وليکو، چې: «هغه راغلی و/ راغلې وه.» نو هدف مو دا دی چې مونږ غايبين يو، په دې نه يو خبر چې هلته نر راغلی و، که ښځه؛ نو ځکه خو مو سلش ورکړی. ښايي هلته به يوازې هغه (نارينه شخص) نه و، کوم بل هغه (ښځينه شخص) به راغلې وه.
له دې سره، سره که چيرې د يوې جملې کومه برخه اندرلاين شوې وي، يعنې لاندې ترې کرښه ويستل شوې وي؛ نو پوهيږو چې د جملې دا برخه ډيره مهمه ده. بېلګه يې پورتنۍ جمله نيسو: «هغه راغلی و.» نو په دې جملې کې هغه ډېر مهم دی.

۳ ـ ليکنښې د جملې په پای کې.
ليکنښې تر ټولو زياتې د جملې په پای کې کارول کيږي، چې د يوې جملې معنا بشپړوي او تر هغو پورې مونږ جمله پوره نه بولو، چې کومه نښه ونلري. راځئ چې د متن په لومړي سر کې ليکلې جملې ته بېلا بېلې ليکنښې په پای کې وليکو، چې معنا او حالت يې څومره بدليږي.
په لومړي قدم کې جمله په ټکي (ډاټ) ختموو او ليکو: «هغه راغلی و.» په دې صورت کې جمله مثبته او تمامه شوه، چې نوره نه غځيږي او مونږ ته د تېرې زماني حال بيانوي، ترڅنګ يې مخاطب خبريږي، چې هغه کس اوس غايب دی؛ ځکه خو يې وويل، چې: «هغه راغلی و.»
خو که چيرې همدغې جملې ته پای کې سواليه (؟) ورکړو « هغه راغلی و؟» نو اوس جمله په حال زمانه کې د تېر حالت پوښتنه کوي. چې ايا هغه راغلی و او که نه؟ نو له معنا سره، سره د جملې زماني حالت هم بدل شو.
په همدې حالت کې که چيرې د جملې په پای کې ندايه «!» ورکړل شي؛ نو پوهيږئ، چې معنا به يې څومره توپير وکړي؟! راځئ چې ويې څېړو:
مونږ ليکو: « هغه راغلی و!»
دا جمله ښايي د استهزا، حيرانتيا، خبرتيا او يا زيات ټينګار په خاطر ويل شوې وي، چې نور متن ته په کتلو سره خلک ترې خپل اړين هدف اخيستلی شي. کېدای شي «هغه» کومه نړيواله او مشهوره څېره وي، چې مونږ چېرته ليدلې او بل کس ته يې ذکر په ډيرې حيرانتيا کوو .
يا ښايي کوم رټلی عاشق وي چې ښا د ليلا تر دره راغلی و او اوس، اوس يې په اړه ليلا ته پوره استهزا سره خبر ورکول کيږي؛ نو ځکه خو د جملې پای په ندايي کيږي.
له دې پرته که يو څوک خبرو چې زمونږ مجلس (بنډار) ته «هغه» هم راغلی و؛ نو لازمه ده چې پای کې ندايه کېږدو.
په يو بل حالت کې مونږ همدغه جمله « هغه راغلی و،» په کامې ختمه کړي؛ نو پوهيږو چې دا جمله لا پوره نه ده، بلکې يو څه نور هم ورپسې ليکل کېدلی شي، دلته يو څو نورې وړې جملې هم شته. يا دا چې دا د مرکبې جملې يوه برخه ده او دلته يوه بله يا څو نورې وړې جملې هم شت؛ لکه کله، ناکله چې کليوالي محاورو کې اورو: زه ورغلی وم، هغه راغلی و، شريف نه و او...
نو ومو ليدل چې دلته « هغه راغلی و،» د مرکبې جملې يوه برخه ده .
همداراز که جمله په وروکې ډش يا هايفن (-) ختموو؛ مثلا: «هغه راغلی و-» نو معنا دا چې دلته په کاغذ کې پرګراف ختميږي، نور ځای نشته او جمله هم لا ختمه نه ده؛ نو ځکه خو هايفن ورپسې ليکو، څو کتونکي او لوستونکی جمله په بل مخ کې پوره کړي.و
له دې پرته که چيرې جمله له خپل وروستي ټکي پرته دوه نور ټکي هم ولري؛ نو د جملې معنا او حالت بدليږي. بېلګه يې هماغه پورتنۍ جمله ده:« هغه راغلی و...» له دې جملې لوستونکی دا مطلب اخلي، چې له «هغه» وړاندې څو نور نومونه هم ذکر شوي او څو نور هم لا پاتې دي. مثلا: ايلم راغلی و، شمشاد راغلی و، هغه راغلی و او ...
دا جمله له ګرامري لحاظه سمه نه ده، ځکه له هرې نوم وروسته بايد کامه وای او د جملې پاتې برخه «راغلی و» بايد هيڅ نه وای ليکل شوې، چې په دې کار سره به د وخت، د قلم د رنګ او د جملې د بدرنګۍ مخنيوی شوی وو.
خو مونږ په زياترو غير رسمي مثالونو او کليوالو محاورو کې داسې جملې وينو.
په پورتنۍ جمله کې ويل شوي، چې: «ايلم راغلی و، شمشاد راغلی و، هغه راغلی و او...» دلته ايلم، شمشاد او «هغه» چې مونږ يې نوم ښودل نه غواړو، راغلي او نه غواړو چې جمله نوره اوږده کړو. نو ځکه درې ټکي ږدو.
خو که وغواړو له دريو ټکو وروسته هم نوم ليکلی شو؛ مثلا: «ايلم راغلی و، شمشاد راغلی و، هغه راغلی و او اباسين هم.»
له دې پرته که زمونږ جمله په سيميکولن يا ځنډني «؛» ختمه شوې وي؛ نو دا معنا ترې اخلو، چې دلته مونږ ځنډ کړی او وروسته مو يوې بلې خبرې ته خوله پرانيستې او يا ښايي د «هغه راغلی و؛» علت مو روښانه کړی وي، چې ولې راغلی. دا يې لنډه بېلګه: هغه راغلی و؛ ځکه چې ته نه وې راغلې. دلته مونږ وينو چې «هغه» راغلی و

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او د لامل ذکر کولو له پاره یې مونږ له «راغلی و» وروسته سیمیکولن کارولی؛ تر څو یې لوستونکي ته د راتلو وضاحت وکړو؛ نو په هره جمله کې د وضاحت له پاره سیمیکولن کارول کیږي او مونږ هم په همدې بناء کار کړی دی.
همداراز که له جملې «هغه راغلی و.» وروسته درې ستوري «***» لیکل شوي وي؛ نو معنا دا چې د متن او یا کیسې برخه په همدې ځای پای ته رسېدلې او اوس باید بل پرګراف پیل شي.
نو ویلی شو، چې که چیرې جملې له لیکنښو خالي وي، څوک په اسانۍ ترې مطلب نشي اخیستلی، د لیکنښو کارونه ځکه هم مهمه ده چې زمونږ غوښتنه، احساس او ځواب تر نورو سم ورسیږي. لوستونکي د لیکنو او متنونو لوستلو پر مهال زمونږ فزیکي وجود، حرکات، د مخ حالت او د ژبې ښورول نه ویني؛ نو زمونږ احساس په سمه توګه نشي درک کولی؛ خو که لیکنښې موجودې وي؛ ښایي تر ډیره زمونږ لازم او سم مطلب په درست ډول خپل کړي.
له دې پرته لیکنښې د یوې جملې دننه ښکلا پیدا کوي؛ د بېلګې په توګه: د عربي په یوه جمله کې راغلي، چې: «جاء حامد و محمود و ساجد و عابد.» نو که چیرې ژباړن پورتنۍ جمله پښتو ته ژباړي او د ژباړې له حقونو او لارښوونو خبر نه وي، ښایي ولیکي چې: «حامد او محمود او ساجد او عابد راغلي و.» چې دا ژباړل شوې جمله بالکل د پښتو جملې له جوړښت او نحوې سره هیڅ سر نه خوري او ښایي په دک مجلس کې مو د خندا کړي؛ خو برعکس که تاسې په پښتو ژباړه کې له هر نوم وروسته کامه وکاروئ؛ نو د ویلو طرز او د لیکلو ښکلا به مو پر ځای وي او د وخت مصرف، د کاغذ مخ، د قلم رنګ او فزیکي انرژي به مو کم استعمال کړي وي. مګر دا کار هغه څوک کولی شي چې په ژبه او ګرامر باندې یو لږ څه پوه وي، نه لکه زمونږ د تاریخ د یو پرچمي ښوونکي په څیر. هغه به په د امتحان په پرچه کې هر سوال ۵ یا ۶ جزونه کړ؛ مثلا: «احمد شاه بابا د چا زوی و او کله پیدا شو او په څو کلنۍ کې پاچا شو او څومره پاچاهي یې وکړه او کله مړ شو؟» نو اوس تاسې ووایئ چې دا جمله څومره ستړې کوونکې ده او آیا څه ګرامري ښکلا پکې وینئ، که نه؟ ښه به نه وای که د هرې وړې جملې پای کې یې د «او» پر ځای «،» کارولی وای؟ او یا یې په لنډه توګه ویلی وای، چې: «د احمدشاه بابا په اړه لنډ معلومات ولیکئ؟!»
په پای کې باید روښانه کړم چې د احساس، پوره معنا، فزیکي حالت د روښانتیا او خبرو د کره والي له پاره په جملو کې د لیکنښو کارونه ډېره اړینه ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ